# الملک

**مکی سورة دی ۳۰ آیتونه لری**

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

تَبَٰرَكَ ٱلَّذِي بِيَدِهِ ٱلۡمُلۡكُ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ﴿١﴾

**ډیر لوی او برکت لرونکی دی هغه ذات( الله تعالی چې د هستئ د جهان) سلطنت یې په واک کې دی او په ټولو چارو او اقداماتو کامل قدرت لری.**

ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلۡمَوۡتَ وَٱلۡحَيَوٰةَ لِيَبۡلُوَكُمۡ أَيُّكُمۡ أَحۡسَنُ عَمَلٗاۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡغَفُورُ ﴿٢﴾

**هغه ذات چې مرګ او ژوند یې پیدا کړی تر څو تاسو وازمایی چې کوم یو مو ډیر نیک عمله دی، او الله تعالی برلاسی او ببښونکی ذات دی.**

ٱلَّذِي خَلَقَ سَبۡعَ سَمَٰوَٰتٖ طِبَاقٗاۖ مَّا تَرَىٰ فِي خَلۡقِ ٱلرَّحۡمَٰنِ مِن تَفَٰوُتٖۖ فَٱرۡجِعِ ٱلۡبَصَرَ هَلۡ تَرَىٰ مِن فُطُورٖ ﴿٣﴾

**هغه ذات چې اوه آسمانونه یې یو د بل له پاسه پیدا کړی،(ای کتونکیه!) ته به د رحمان( خدای) د پیدایښت په نظام کې هیڅ ډول عیب او بې نظمی و نه وینې. هر خوا سترګې واړوه( او په دقت وګوره) آیا کومه ګډوډی او بې نظمی په نظر درځی؟**

ثُمَّ ٱرۡجِعِ ٱلۡبَصَرَ كَرَّتَيۡنِ يَنقَلِبۡ إِلَيۡكَ ٱلۡبَصَرُ خَاسِئٗا وَهُوَ حَسِيرٞ ﴿٤﴾

**بیا سترګې واړوه( او په دقت وګوره) نظر به دې ستړی ستومانه درته راستون شی خو( په دغه نظام کې به هیڅ عیب او بې نظمی و نه وینې).**

وَلَقَدۡ زَيَّنَّا ٱلسَّمَآءَ ٱلدُّنۡيَا بِمَصَٰبِيحَ وَجَعَلۡنَٰهَا رُجُومٗا لِّلشَّيَٰطِينِۖ وَأَعۡتَدۡنَا لَهُمۡ عَذَابَ ٱلسَّعِيرِ ﴿٥﴾

**بې له شکه چې مونږ نږدې آسمان په ستورو ښکلی کړی او له همدغو ستورو نه د شیطانانو د رټلو او ویشتلو لپاره هم کار اخلو، او  د شیطانانو لپاره مو( په آخرت کې) لمبو وهونکی اور هم تیار کړی دی.**

وَلِلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِرَبِّهِمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ ۖ وَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ ﴿٦﴾

او د هغو کسانو لپاره چې د خپل رب نه منکر او کافر دی، د دوزخ عذاب تیار شوی چې د ورتلو لپاره تر ټولو بد ځای دی.

إِذَآ أُلْقُوا۟ فِيهَا سَمِعُوا۟ لَهَا شَهِيقًا وَهِىَ تَفُورُ ﴿٧﴾

کله چې دوزخ ته ور وغورځول شی د هغه د جوش او غرغنډو زړه بوګنوونکي او ویروونکی غږونه به واوری.

تَكَادُ تَمَيَّزُ مِنَ ٱلْغَيْظِ ۖ كُلَّمَآ أُلْقِىَ فِيهَا فَوْجٌ سَأَلَهُمْ خَزَنَتُهَآ أَلَمْ يَأْتِكُمْ

نَذِيرٌ ﴿٨﴾

نږدې ده چې دوزخ د قهر او غضب له شدت نه وچوی او ټوټه ټوټه شی، هره ډله چې ورو‌غورځیږی، ساتونکی به ترې پوښتنه کوی چې آیا کوم اخطار درکوونکی نه و درغلی؟

قَالُوا۟ بَلَىٰ قَدْ جَآءَنَا نَذِيرٌ فَكَذَّبْنَا وَقُلْنَا مَا نَزَّلَ ٱللَّهُ مِن شَىْءٍ إِنْ أَنتُمْ إِلَّا فِى

ضَلَٰلٍ كَبِيرٍ ﴿٩﴾

دوی به ووایی: هو- تنبیه کوونکی( پیغمبران) راته راغلی وو خو مونږ دروا‌غجن وګڼل او ورته مو وویل چې الله تعالی هیڅ شی نه دی نازل کړی او تاسو( د نبوت په دعوه سره) په لویه ګمراهی کې روان یی.

وَقَالُوا۟ لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ أَوْ نَعْقِلُ مَا كُنَّا فِىٓ أَصْحَٰبِ ٱلسَّعِيرِ ﴿١٠﴾

( دوزخیان به بیا په افسوس سره ) ووایی: که مونږ د پیغمبرانو دعوت منلی وی او یا مو( په هغو حقایقو کې) چې مونږ ته یې راوړی وو، له عقل نه کار اخستی وی، نن به په سوزوونکی دوزخ کې پراته نه وی.

فَٱعْتَرَفُوا۟ بِذَنۢبِهِمْ فَسُحْقًا لِّأَصْحَٰبِ ٱلسَّعِيرِ ﴿١١﴾

نو پخپلو ګناهونو به اعتراف وکړی، تباه او( له الهی رحمت نه دې) رټل شوی وی دوزخیان.

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُم بِٱلْغَيْبِ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ كَبِيرٌ ﴿١٢﴾

بې له شکه هغه کسان چې په غائبانه توګه له خپل رب نه ویریږی د ښښنې او لوی اجر مستحق دی.

وَأَسِرُّواْ قَوْلَكُمْ أَوِ ٱجْهَرُواْ بِهِۦٓ ۖ إِنَّهُۥ عَلِيمٌۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴿١٣﴾

که تاسو خپلې خبرې پټې کړئ که ښکاره، خو بيشکه چې الله تعالى د سينو( زړونو) په اسرارو ډېر ښه خبر دی.

أَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ وَهُوَ ٱللَّطِيفُ ٱلْخَبِيرُ ﴿١٤﴾

آيا( الله تعالى) د خپل مخلوق( په پټو اسرارو او نيتونو) خبر نه دی؟ بيشکه چې( د هرشی په باطن او ظاهر) پوه او بارکبين ذات دی.

هُوَ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلْأَرْضَ ذَلُولًا فَٱمْشُواْ فِى مَنَاكِبِهَا وَكُلُواْ مِن رِّزْقِهِۦ ۖ
وَإِلَيْهِ ٱلنُّشُورُ ﴿١٥﴾

هغه ذات چې ځمکه يې ( د هغې له ټولو موجوداتو او منابعو سره)ستاسو په واک کې درکړه، چې کولی شئ هره خوا يې وګرځئ او د الله تعالى له رزق نه وخورئ او( له منابعو او ذخايرو نه يې ګټه واخلئ) او بيرته هم له مرګ نه وروسته د هغه حضور ته ورګرځئ.

ءَأَمِنتُم مَّن فِى ٱلسَّمَآءِ أَن يَخْسِفَ بِكُمُ ٱلْأَرْضَ فَإِذَا هِىَ تَمُورُ ﴿١٦﴾

آيا تاسو خپل ځانونه د هغه ذات( له مؤاخذې نه) په امن کې احساسوئ چې په آسمان کې دی، او کولی شی تاسو په ځمکه ورښخ کړی او په سختو ټکانونو يې درباندې ولرزوی.

أَمْ أَمِنتُم مَّن فِى ٱلسَّمَآءِ أَن يُرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا ۖ فَسَتَعْلَمُونَ كَيْفَ
نَذِيرِ ﴿١٧﴾

آيا تاسو د هغه ذات( له مؤاخذې نه) خلاصيدی شئ چې په آسمان کې دی( او کولی شی د شګو او تيږو) توپان درباندی راواستوی، نو پوه به شئ چې زما د اخطار او تنبيه حقيقت څنګه و؟

وَلَقَدْ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ ﴿١٨﴾

( له اوسنيو مخالفينو او مکذبينو نه) وړاندې هم ډېرو ولسونو( د الله تعالى آيتونه او پيغمبران) درواغ وګڼل نو وګوره( چې څه ډول عذابونه ورباندې نازل شول) او د تکذيب انجام او عاقبت يې څنګه و؟

**أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ إِلَى ٱلطَّيۡرِ فَوۡقَهُمۡ صَٰٓفَّٰتٖ وَيَقۡبِضۡنَۚ مَا يُمۡسِكُهُنَّ إِلَّا ٱلرَّحۡمَٰنُۚ**
**إِنَّهُۥ بِكُلِّ شَيۡءِۭ بَصِيرٌ ١٩**

**( د آسمانونو او ځمکې نه وروسته) آیا مارغانو ته نه ګوری چې د دوی له پاسه ګرځی (او په خوښۍ او اطمینان) خپلې وزرې خوروی او راټولوی او یوازې رحمان ذات (الله تعالی) یې په هواکې ساتی او مراقبت یې کوی. بیشکه چې( الله تعالی) خپل ټول مخلوقات وینی( او د هغوی د ژوند په اړتیاو ډیر ښه خبر دی).**

**أَمَّنۡ هَٰذَا ٱلَّذِي هُوَ جُندٞ لَّكُمۡ يَنصُرُكُم مِّن دُونِ ٱلرَّحۡمَٰنِۚ إِنِ ٱلۡكَٰفِرُونَ إِلَّا فِي**
**غُرُورٍ ٢٠**

**آیا تاسو کوم پوځ او لښکر لرئ چې د الله تعالی په مقابل کې ستاسو دفاع او مرسته وکړی؟( نه هیڅکله یې نه لرئ) بلکه کافران یوازې( د شیطان) د فریب په لومو کې نښتی دی.**

**أَمَّنۡ هَٰذَا ٱلَّذِي يَرۡزُقُكُمۡ إِنۡ أَمۡسَكَ رِزۡقَهُۥۚ بَل لَّجُّواْ فِي عُتُوّٖ وَنُفُورٍ ٢١**

**او که الله تعالی دربانديې خپله روزی ودروی، آیا بل کوم قوت شته چې تاسو ته روزی درکړی؟( نه یوازې دا چې کافران په مسلمو حقایقو سترګې پټوی بلکه له حق نه) په سرکشۍ او تیښته هم ټینګار کوی .**

**أَفَمَن يَمۡشِي مُكِبًّا عَلَىٰ وَجۡهِهِۦٓ أَهۡدَىٰٓ أَمَّن يَمۡشِي سَوِيًّا عَلَىٰ صِرَٰطٖ**
**مُّسۡتَقِيمٖ ٢٢**

**آیا څوک چې پړمخې او نسکور په ځمکه ښښیږی، ښه لاره موندلی شی، او که هغه چې روغ رمټ په لاره روان دی؟**

**قُلۡ هُوَ ٱلَّذِيٓ أَنشَأَكُمۡ وَجَعَلَ لَكُمُ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡأَبۡصَٰرَ وَٱلۡأَفۡـِٔدَةَۖ قَلِيلٗا مَّا**
**تَشۡكُرُونَ ٢٣**

**(ای پیغمبره!)ووایه: الله تعالی هغه ذات دی چې تاسو یې پیدا کړئ او( د اوریدو او لیدلو قوت) غوږونه او سترګې او زړونه یې درکړې خو بیا هم تاسو ډیر لږ شمیر شکر کوونکی یاست.**

قُلْ هُوَ ٱلَّذِى ذَرَأَكُمْ فِى ٱلْأَرْضِ وَإِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ٢٤

**ورته ووایه همدا الله تعالی دی چې تاسو يې پيدا او په ځمکه کې خواره کړئ او بيرته هم د هغه حضور ته احضاريدونکی یاست.**

وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ٢٥

**او( کافران مؤمنانو ته) وايی که رښتونی یاست نو( ووایی چې) د قیامت د قیام نیټه کله رارسی؟**

قُلْ إِنَّمَا ٱلْعِلْمُ عِندَ ٱللَّهِ وَإِنَّمَآ أَنَا۠ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ٢٦

**ورته ووایه دغه علم له الله تعالی سره دی او زما وظیفه یوازې په ښکاره او علنی توګه ( له الهی عذاب نه) ستاسو ويرول دی.**

فَلَمَّا رَأَوْهُ زُلْفَةً سِيٓـَٔتْ وُجُوهُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَقِيلَ هَٰذَا ٱلَّذِى كُنتُم بِهِۦ تَدَّعُونَ ٢٧

**نو کله چې(عذاب او قیامت) له نږدې ووينی د کافرانو څيرې به توری او بد شکله شی( او ورته به وويل شی:) دا هغه څه دی( چې تاسو به يې په ټوکو او مسخرو په تلوار) غوښتنه کوله.**

قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِنْ أَهْلَكَنِىَ ٱللَّهُ وَمَن مَّعِىَ أَوْ رَحِمَنَا فَمَن يُجِيرُ ٱلْكَٰفِرِينَ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ٢٨

**ورته ووایه، وګورئ که الله تعالی( ستاسو له هيلو سره سم) ما او زما ټول ملګری هلاک کړی او يا راباندې خپل رحمت ولوروی( تاسو ته هيڅ ګټه نه لری، ځکه مونږ په هر حال اهل نجات يو او اخروی ژوند مو نيکمرغه دی) خو کافران( باید د خپل انجام او عاقبت په باب فکر وکړی چې) څوک به يې له دردوونکی عذابه وژغوری.**

قُلْ هُوَ ٱلرَّحْمَٰنُ ءَامَنَّا بِهِۦ وَعَلَيْهِ تَوَكَّلْنَا ۖ فَسَتَعْلَمُونَ مَنْ هُوَ فِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ٢٩

**ووایه: الله تعالی رحمان ذات دی، مونږ په هغه ایمان راوړی، په هغه مو توکل دی( او ټینګه عقیده مو دا ده چې ابدی بری او نیکمرغی زمونږ په برخه ده). او تاسو به ډیر زر( د عذاب په لیدلو سره) وپوهیږئ چې څوک په څرګنده ګمراهۍ کې روان دی( مؤمنان که کافران)؟**

قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِنْ أَصْبَحَ مَآؤُكُمْ غَوْرًا فَمَن يَأْتِيكُم بِمَآءٍ مَّعِينٍ ﴿٣٠﴾

**ووایه: په دې مې پوه کړئ چې که ستاسو د اړتیا وړ اوبه( سیندونه، چینې او څاګانې) په ځمکه کې ښکته جذب شی( او ستاسو له ګټې ووځی) نو څوک به درته روانې او خوندورې اوبه برابرې کړی؟**
**« تمت سورة الملک بفضل الله و رحمته»**

**======================**